# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|

فرستنده: امین بسمل
۲۹جولای ۲۰۱۲



# په جرمني کې دميرويس نيکه جومات دمسؤولينونوی تصميم

دميرويس نيکه جومات مشرتابه هيئت د روژې مباره کي دلسمي په وياړ ورمه ورځ د حاجي صاحب احمـد احمـدزي ترمشري لاندې يوه غونډه رابللې وه ځو د ميرويس نيکه جومات لپاره ديوې ټوټې ځمکې را نيولو لپاره چي لاله پخوا په پلان کې وه خپل ګامونه ګړندي کړي .

ديادې چارې دښې اجرأ لپاره لمړی په يو ځانګړي کميسيون سلا شول بيا يې نيت وکړ ، چي د مباره کي روژې د شملي په وياړ يوه نوې بانکي شمېره پرانيزي ځو دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه زمونږ مسلماني خويندې او ورونه دخپل وس په اندازه مرستې راوليږي چې هم په دې عظيم اجر کې له مونږ سره شريک اوهم زمونږ چارې ګړندۍ کړي .

مونږ به انشاءالله تر لسو وروځو پورې ياده بانکي شمېره پرانيزو او دمباره کي روژې دشلمي په وياړ به يې تاسو درنو خويندو او ورونو ته دانترنيت او نورو رسنيو له لارې خپره کړو.

ديادولو ده چي دميرويس نيکه جومات چارې سمې رواني اوزمونږ ګرانو هيوادوالو پخپل وس کومکونه کړي چې دا به هم دشلمي مباره کي روژې په وياړ تاسو ته ابلاغ شي .

دميرويس نيکه جومات ټول غړي زمونږ له درنوافغان ويبپاڼو چلوونکو څخه ممنون دي، چي زمونږ د جومات خبرتياوې يې بې له ځنډه خپرې کړې دي الله پاک دې ټولو ته اجرونه ورکړي .

په پاې کي تاسوټولومسلمانوخويندواوورونوته بختوره روژه، دمحبت اوشفقت رنګينه اوعاطفي دنيا غواړو.

دميرويس نيکه جومات مشرتابه هيئت